مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۱۷مه | د ۲۰۲۰ د جولای اوومه | ۵۶۳مه گڼه

# پر زندانیانو ناندرۍ او سوله؛

## سرچینه: د سولې بین الافغاني مذاکرات تر نامعلومې نېټې ځنډېدلي



۳

د بندیانو لانجه او د بین الافغاني خبرو ځنډ
۲ مخ

غصب زمین های دولتی ادامه دارد
۲ مخ

د یوې موخې بیه
۳ مخ

## د اسلامي همکاریو سازمان: د افغان جگړې ښکېلې غاړې دې د جگړې پرځای پر سولې تمرکز ډېر کړي

د اسلامي همکاریو سازمان سرمنشي له افغانانو غوښتي چې له تاوتریخوالي لاس واخلي او خپله ټوله پاملرنه سولې ته واړوي. د دغه سازمان له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د سازمان سرمنشي دوکتور یوسف العثیمین له ښکېلو افغان اړخونو غوښتي چې ټوله پاملرنه سولې ته واړوي او له تاوتریخوالي لاس واخلي. هغه د تاوتریخوالي پر زیاتېدو اندېښنه څرگنده کړې او ویلي یې دي چې په دې وروستیو کې د ملکي افغانانو مرگ ژوبله زیاته شوې ده. د دغه سازمان سرمنشي د تاوتریخوالي پر کمولو د تینگار ترڅنگ غوښتنه کړې چې ژر تر ژره دې اوربند ته لاره هواره شي. هغه دغه راز له افغان مشرانو غوښتي، څو د داسې سولې راوستو لپاره کار وکړي چې افغانان یې له ډېر وخت راهیسې په تمه دي. نوموړي ویلي، په افغانستان کې وروستي تاوتریخوالي اندېښمن کړی چې د ښځو او ماشومانو په گډون پکې تر ډېره ولسي وگړي وژل شوي دي. ډاکټر العثیمین د خبرو مثبت پرمختگ ته په اشارې دا هم ویلي چې ټول افغانان باید د افغانانو په مشرۍ د تلپاتې سولې او پخلاینې لپاره هڅې ونه سپموي.

د دغه سازمان سرمنشي زیاته کړې چې دی هیله من دی چې د سولې روانې هڅې به د افغانانو هوساینې او افغانستان ته د پرمختگ، امنیت او ټیکاو راتلو لامل شي. په ورته وخت کې بهرنیو چارو وزارت هم د افغانستان د سولې له بهیر څخه د اسلامي همکاریوسازمان د ملاتړ په اړه خپره شوې اعلامیه مهمه بللې او د دغه سازمان دریځ یې ستایلی دی.

## د بشري حقونو سازمان: د جگړې ښکېل اړخونه ملکیانو ژوند ته پام نه کوي



۳ مخ


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ
Aksos
0798-98-9696, 0202504652
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com


ځیره
۴ مخ

## محمد نظام الدین اولیا

خواجه نظام الدین هم د خپلو استادانو په څېر په دې باوري و چې د مینې او محبت له لارې خدای ته رسېدلی شي. هغه له بشریت او انسانیت سره مینه له خدای سره د مینې لپاره غوره لار گڼله. دی ځکه په هند کې ډېر شهرت او ملاتړي لري چې فکر یې پر انسان دوستۍ ولاړ و.



## کرنې ریاست: د پکتیکا د جلغوزیو حاصلات سږ کال ۱۴ زرو ټنو ته لوړ شوي دي



د پکتیکا چارواکي وايي چې سږ کال په دغه ولایت کې د جلغوزو د حاصلاتو اندازه څه باندې ۱٤ زره ټنو ته لوړه شوې چې د تېر کال د جلغوزو حاصلاتو له دوه برابره هم ډېره ده.

د پکتیکا د کرنې رییس ابوبکر صدیقي ویلي چې په تېرو شپږو کلونو کې په دغه ولایت کې د جلغوزو حاصلات دومره نه وو، لکه سږ کال چې دي. هغه زیاته کړې چې تېر کال په دغه ولایت کې نږدې شپږ زره ټنه جلغوزي تولید شوي وو، خو سږ کال یې حاصلات څه باندې ۱٤ زره ټنه دي.

د نوموړي په وینا، له کله چې چین ته د جلغوزو صادراتو لړۍ پیل شوې، د دغه ولایت اوسېدونکو دې برخې ته خپله پاملرنه ډېره کړه، نو ځکه یې د حاصلاتو کچه هم لوړه شوې ده.

هغه ویلي چې تېر کال د دغه ولایت زرگونه ټنه جلغوزي چین ته صادر شول، خو په وروستیو کې د کرونا ویروس له امله دغه لړۍ ودرول شوه.

## ولسی جرگه: برخی سرپرست وزیران مامورین را برکنار و افراد نزدیک به خود شان را مقرر می کنند



شماری اعضای ولسی جرگه ضمن تاکید بر معرفی نامزد وزراء به این جرگه می گویند که برخی سرپرست وزیران خلاف قانون، مامورین را برکنار و در عوض آنها افراد نزدیک به خود شان را مقرر می کنند.

رئیس جمهور برای وزارت های امور خارجه، معارف، مالیه، معادن، اطلاعات و فرهنگ، صحت عامه، امورزنان، ریاست عمومی امنیت ملی و د افغانستان بانک نامزدان را تعیین نموده، اما به ولسی جرگه معرفی نشده اند.

در نشست دیروز ولسی جرگه نیز بار دیگر بر ادامه کار سرپرستان در ادارات و عدم معرفی نامزد وزراء انتقاد شد. نظیفه ذکی نماینده مردم کابل در ولسی جرگه گفت:«حالا خو توافق سیاسی نیز صورت گرفته است، چرا اعضای کابینه برای گرفتن رای اعتماد معرفی نمی شوند، اکثر سرپرستان خلاف قانون برکناری و تقرری ها را آغاز کرده اند که این کار آنها سبب نگرانی مامورین ادارات و وکلا شده است.»

حاجی هاشم فاریابی نماینده مردم فاریاب در این جرگه گفت: «اگر کابینه معرفی نشود، سرپرستی ادامه پیدا می کند و در زمان رخصتی های تابستانی شورای ملی، [نامزد وزراء] هر کاری که دل شان باشند انجام خواهند داد.»

فاریابی خواهان معرفی اعضای کابینه قبل از آغاز رخصتی های تابستانی به این جرگه شد و گفت که باید به فرهنگ سرپرستی خاتمه داده شود، زیرا به گفته او شماری سرپرستان خلاف قانون برخی کارمندان ادارات ذیربط را برکنار و افراد نزدیک به خود شان را مقرر کرده اند.

## دریـــځ

### د بندیانو لانجه او د بین الافغاني خبرو ځنډ

د طالبانو د پاتې شپږ سوو بندیانو په تړاو لانجې یو ځل بیا د بین الافغاني خبرو د پیل پر وړاندې خنډونه پیدا کړي دي. وروستي معلومات دا دي چې د حکومت دغه دریځ چې ۶۰۰ طالب بندیان به نه خوشې کوي، د دې سبب شوی چې د جولای په ۱۵مه کېدونکې بین الافغاني خبرې تر نامعلومې نېټې وځنډول شي. حکومت تر اوسه پورې ۴۴۰۰ طالب بندیان خوشې کړي او د لېست پر اساس پاتې ۶۰۰ بندیان نه خوشې کوي او وایي چې دا بندیان جنایي دوسیې لري. طالبان بیا د حکومت دا تور ردوي او وایي چې حکومتي چارواکي بیا بیا د سولې د خبرو د پیل پر وړاندې خنډونه جوړوي.

دا ډول خبرونه ډېرې ناهیلي کوونکي دي او خلک له دې خبرونو خواشیني کېږي. له بده مرغه بیا بیا په قصدي او شعوري ډول هڅه کېږي چې د سولې د بین الافغاني خبرو مخه ونیول شي. حکومت همدا ۴۴۰۰ بندیان هم نه خوشې کول، چې اوس یې خوشې کړي دي او د دې کار لپاره یې دلایل راوړل، خو نن د دوی هغه دلایل نشته او بندیان خوشې شوې دي. د بندیانو خوشې کولو اهمیت یو طرف، خو دا چاره د سولې د خبرو د ځنډ او د جګړې د شدت لامل شوې ده چې قرباني یې بیا هم د جګړې په ښکېلو لورو کې افغان ځوانان او تر ټنګ یې عام وګړي دي. اوس هم ښکار ده چې پاتې ۶۰۰ بندیان به هم خوشې کېږي، خو ځنډ به یې د جګړې د دوام او د افغانانو د وینې د تویېدو سبب شي.

حکومت چې د بندیانو د خوشې کولو لپاره کوم دلیل وایي، واضح ښکاریږي چې پلمه ده. لومړی خو د حکومت ادعا د تأمل وړ ده، چې دا به جنایي بندیان وي، خو که وي هم، حکومت مخکې د کرونا له امله جنایي بندیان خوشې کړي، نو که دا هم جنایي وي، څه ستونزه ده چې خوشې شي!؟ د دې تر څنګ که د افغانانو د ستر مصلحت، سولې او سترو ګټو لپاره دا جنایي بندیان خوشې شي، نو د توجیه وړ دي او ستونزه به ونه لري. بل که حکومت ته جنایي قضیې، جرمونه او د بنده ګانو حقوق دومره مهم وي، نو بیا خو دې یې په نورو چارو کې هم عملي کړي. پر یو چا د جنایت تور دی، اسناد او شواهد هم شته، خو حکومت ورته څوکۍ ورکوي، امکانات ورکوي او آن یوه ته یې د سیاسي معاملې لپاره مارشالي هم ورکوي، خو چې کله خبره د سولې شي، بیا نو د قانون او حقوق العبد بحث رامخته کړي. له دې واضح ښکاري چې د بندیانو نه خوشې کول سیاسي لامل لري او دا د سولې د بین الافغاني خبرو پر وړاندې د خنډو جوړولو له هڅې پرته بله مانا نه لري.

خلک هر څه درک کوي او پوهېږي چې چارواکي څه غواړي. حکومتي چارواکو ته پکار ده چې نور د سولې د خبرو پر وړاندې دا مزاحمت او خنډ جوړول بند کړي. پکار ده چې حکومت نور د خلکو له هیلو او ارمانونو سره لوبې ونه کړي او پرېږدي چې افغانان د سولې او امن خاوندان شي. له دې پرته به خلک اړ شي چې له حکومت سره په خپل چلند کې بدلون راولي.

# غصب زمین های دولتی ادامه دارد

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی



به نقل از پژواک، شواهد نشان میدهد که شهردار کابل به منظور غصب ملکیت ادارات دولتی، ساحه سبز و زمین های استملاک شده دولتی، برای برخی تاجران و اعضای مجلس نماینده گان احکام صادر کرده است. گفته میشود پس از آن که آقای سطان زوی از سوی رئیس جمهور افغانستان به این پست گماشته شد تا اکنون حد اقل دو حکم غیر قانونی صادر کرده است. اسنادی که به دست پژواک است نشان میدهد که شهردار کابل در مربوطات ناحیه دوازدهم شهر برای یک شرکت خصوصی امر فوق العاده داده است تا بالای زمین مربوط وزارت معارف، ساختمان اعمار کند. و حکم دومی وی در مربوطات ناحیه هشتم نیز برای شماری از وکلای ولسی جرگه، امر فوق العاده اعمار چهار دیواری بالای ۱۲ جریب ساحه سبز و استملاک شده را صادر کرده است، درحالیکه رئیس ناحیه دوازدهم شهر کابل، گفته است که این زمین به وزارت معارف تعلق می گیرد.

چالشی بزرگ

غصب زمین یکی از چالش‌های بزرگ افغانستان به خصوص طی دو دهه‌ی اخیر است. تنها در طول ۱۸ سال گذشته در حدود ۵۰ هزار جریب زمین در کابل غصب شده است. حکومت ها بارها در این پیوند خواسته اند تا اقدامی انجام دهند و زمین‌های غصبی را دوباره پس بگیرند، اما یا زور دولت به زورمندان (که اکثریت آنان نیز افراد مسلح با خود دارند) نرسیده است، و یا بنا بر مصلحت هایی خاموش مانده است.

به تاریخ ۲۷ ماه جدی سال ۱۳۹۱ ه ش روزنامه هشت صبح گزارش تحقیقی ای را به نشر سپرد که بر اساس آن، در حدود ۲ میلیون جریب زمین دولتی در افغانستان غصب شده بود. همزمان با آن، مشاوریت ارشد ساختمانی و فنی ریاست جمهوری وقت نیز گزارشی به حامد کرزی، رئیس جمهوری سابق افغانستان، ارائه داد که بر مبنای آن در حدود ۴.۵ میلیون جریب زمین دولتی، در مناطق زراعتی، دهاتی و شهری، غصب شده بود. به اساس گزارش فوق، در میان کسانی که زمین‌ها را غصب کرده‌اند، از نام برخی از معاونین رئیس جمهوری گرفته تا وزرا، معاونین وزارت خانه ها، روسای ادارات، اعضای مجلس افغانستان، فرمانده های جهادی، متنفذان محلی و حتی مردم عام نیز به چشم می خورد. گزارش به اندازه‌ای همه جانبه و گسترده بود که مسئولان آن توسط زورمندان مورد تهدید قرار گرفته اند و کارمندان آن هفته ها تحت حمایت نیروهای امنیتی تردد می کردند. غاصبان زمین تنها به غصب زمین های دولتی بسنده نکرده اند، بلکه حتی زمین ها و خانه های مردم را نیز گرفته اند. تا پیش از هجوم مجاهدین به شهرها و سقوط حکومت دکتر نجیب الله، هزاران شهروند هندوتبار در افغانستان، به خصوص در کابل، از سالهای سال زندگی می کردند. آنها صاحب زمین، خانه و املاک و اموال فراوان بودند. با روی کار آمدن مجاهدین و در پی آن، جنگ های پی در پی و سپس استیلای طالبان بر افغانستان، هندوتبارها مجبور شدند تا موقتاً به خارج از افغانستان پناهنده شوند. اما در برگشت، دیگر اثری از خانه و املاک شان باقی نماند. در سال های اخیر بیش از ۹۰ در صد ملکیت های اهل هنود غصب شده است ولی این اقلیت توان استرداد این زمین ها را ندارد. یکی از نهاد ها به اسم خانه آزادی در ماه فبروی سال ۲۰۱۴ م تحقیقی را تحت عنوان «فصل سیاه غصب زمین» به نشر رساند، که در آن محققان با ۷۰ تن از منابع معتبر دولتی مصاحبه کرده بودند. تحلیل آمار گزارش حاکی از آن است که بیشترین زمین در کابل غصب شده و به ترتیب، ولایات هرات، بلخ، قندهار، ننگرهار، کندز، کاپیسا، بغلان، تخار، نیمروز، خوست، لوگر و غزنی ولایاتی‌اند که بیشتر از تمام ولایت های افغانستان زمین‌های غصب شده را به خود اختصاص داده‌اند. براساس این گزارش ولایات نورستان، پکتیکا، پنجشیر، دایکندی و غور به دلیل نبود زمین، کمترین زمین غصب شده را دارند. مسوولان خانه آزادی گفتند با وجودی که حکومت معلومات کافی در مورد غاصبان زمین دارد، اما اقدامی برای پیگرد عاملان غصب زمین در آن زمان هم صورت نگرفت.

غاصبین زمین کی ها اند؟

در ماه اسد سال ۱۳۹۸ه ش وزارت شهرسازی و اراضی افغانستان در گزارش اعلان نمود که در سراسر این کشور حدود یک میلیون و ۶۰۰ هزار جریب زمین دولتی غصب شده است. بر اساس معلومات این وزارت در غصب زمین‌های دولتی بیش از ۱۸هزار نفر دخیل اند که از این میان فهرست ۱۵هزار تن به نهادهای عدلی و قضایی سپرده شده است. بر اساس یافته های این وزارت، بیشتر زورمندان محلی در غصب زمین های دولتی دخیل اند. سخنگوی وزارت شهر سازی و اراضی به صدای امریکا گفت که در چهار سال گذشته به کمک نیروهای امنیتی حدود ۵۰۰ هزار جریب زمین دولتی از چنگ غاصبان بیرون کشیده شده است. بر اساس آمار که وزارت اقتصاد ارایه نموده است، غصب ۱۳۸۹۹۶ جریب زمین در شش ولایت مهم افغانستان بطور رسمی ثبت شده است. آمار وزارت اقتصاد نشان میدهد که در ولایت هرات ۱۲۴۱۱ جریب زمین، در ننگرهار ۲۰۵۰۰ جریب زمین توسط ۱۳ تن، در کندز ۱۷۱۴ جریب زمین توسط ۱۵ تن، در کابل ۱۱۴۲۶ جریب زمین توسط ۱۱ تن و در ولایت پروان ۵۳۴۵ جریب زمین توسط دو نفر غصب شده است. ولی این موضوع جنجال برانگیز می باشد دولت نیز از این رجال نام نمی برد، غصب زمین سال ها در افغانستان وجود داشته با آن که دولت اقدامات را روی دست گرفت تا حال نتیجه بخش نبوده است. حکومت وحدت ملی برای جلوگیری از غصب زمین طی سال گذشته شروع به ثبت زمین های دولتی نمود و به تاریخ ۱۲ جوزای سال ۱۳۹۹ ه ش از ثبت بیش از شش میلیون جریب زمین دولتی در بانک زمین خبر داد. سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی بیان نمود که اهداف کلی این برنامه، تعیین وتثبیت زمین های دولتی، جلوگیری از غصب زمین های دولتی، توزیع زمین برای افراد مستحق و تطبیق پروژه های عالم المنفعه است. اعضای کمیسون مبارزه با فساد اداری تایید می نمایند که زمین ها غصب شده از ارقامی که ارائه شده بسیار بالاتر است، چون کشور دشتها و زمین های که دارد که حین وسعت دادن شهر های بزرگ مانند ننگرهار، کابل، مزارشریف، هرات، کندهار و دیگر جا ها هم سوء استفاده صورت گرفته است.

کوشش در جهت استرداد زمین های مغصوبه

از جمله زمین های غصب شده تا حال فقط ۴۰۰ هزار جریب آن از غاصبین پس گرفته شده است، و در کنار آن مبارزه حکومت در برابر غاصبین زمین در افغانستان در برخی موارد قربانی مصلحت های سیاسی شده است. برای دوباره گرفتن زمین های غصب شده در زمان رئیس جمهور اسبق کشور حامد کرزی و همچنان در زمان حکومت اشراف غنی اقداماتی صورت گرفت ولی این اقدامات آنچنان نبود که مشکل را ریشه کن نماید. غصب زمین برای دولت همچون گره کور تبدیل شده است، غاصبان تقریباً برای تمامی زمین های که غصب کرده اند، قباله های جعلی ساخته اند. اکثر این زمین ها تبدیل به شهرک های رهایشی شده است و به مردم عادی فروخته شده است. حالا برای دولت بسیار دشوار است که مردم عادی را که این زمین‌ها را خریده اند، از خانه های شان بیرون کند. اکثر غاصبان نیز در بیرون از افغانستان زندگی می کنند.از بسیار کسانیکه زمین های شان غصب شده است با گذشت زمان نام های شان از روی صحنه پاک شده است و دیگر دنبال املاک خود را رها کرده اند، با توجه به این وضعیت، به نظر نمی رسد که هشدار های رئیس جمهوری غنی ۲۶ دلو سال ۱۳۹۶ به غاصبان، در برنامه زیر نام «انکشاف نظام زمین داری در افغانستان» جلو غصب زمین های دولتی را گرفته باشد. وی آن وقت هشدار داده بود که برای استرداد زمین های غصب شده از سوی زور مندان محکمه خاص تشکیل خواهد داد و اگر دست بر ندارند، اسامی شان را افشا خواهد کرد. ولی در جریان سال های حاکمیت حکومت وحدت ملی، اقدامات عملی مناسب برای عملی شدن این هشدار ها صورت نگرفته است. از یک طرف قوانین مشخصی در مورد پیگرد قانونی غاصبان زمین در افغانستان وجود ندارد و از سوی دیگر نهاد های عدلی و قضایی از پیگرد غاصبان زمین عاجز بوده اند به همین دلایل حکومت طی سال های گزشته نتوانسته زمین های غصب شده را واپس گیرد.

راه حل

جلوگیری از غصب زمین قبل از همه به یک تصمیم قاطع نیاز دارد و بعد به برنامه های عملی دوام دار. طرح قانون جلوگیری از غصب و تصرف غیرقانونی زمین‌های دولتی و غیردولتی (۱میزان ۱۳۹۲) از سوی مجلس نمایندگان تصویب شد، ولی با وجود آن غصب زمین هنوز هم برای کشور درد بی درمان بوده، نه تنها برای استرداد زمین های غصب شده اقدامی جدی صورت نگرفته بلکه این عمل شنیع هنوز هم جریان دارد. دولت میتواند با تطبیق برنامه عملی و انکشافی بانک زمین دولتی به منظور سروی و ثبت زمین های دولتی و ملکیت های عامه ایجاد گردیده است، جلوگیری از غصب بیشتر زمین های دولتی، زمینه سازی برای طرح و تطبیق پلان گذاری های اقتصادی و انکشافی دولت، تحقق پروژه های زیربنایی و عام المنفعه، اجاره دهی زمین به سکتور خصوصی و توزیع زمین به عودت کننده گان، بیجا شده گان داخلی، کوچی ها و ورثه شهداء زمین توزیع نماید. اما مهمتر از همه تقویت باور به حرمت غصب زمین و عدم دست درازی به ملکیت های عامه است که متأسفانه درین راستا هیچ کاری صورت نگرفته است.

# پر زندانیانو نانذرۍ او سوله؛

## سرچینه: د سولې بین الافغاني مذاکرات تر نامعلومې نېټې ځنډېدلي



سره له دې چې د بین الافغاني خبرو د ژر پیلېدو لپاره افغانان شېبې شماري، خو یو شمېر سرچینې وايي چې د دغو خبرو پیل تر نامعلومې ځنډېلی دی. رسنیو ته رسېدلي معلومات ښيي چې د سولې بین الافغاني خبرې باید په جولای میاشت کې په دوحه کې پیل شوې وای، خو د طالب زندانیانو د خلاصون پر سر د یو شمېر ستونزو د موجودیت له امله دغه خبرې ځنډېدلي. بلخوا افغان حکومت بیا د تاوتریخوالي دوام د سولې د خبرو د پیل پر وړاندې خنډ بولي، همدا راز د ولسي جرګې غړي بیا حکومت تورنوي چې د سولې په لار کې خنډ جوړوي.

وروسته له هغه چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه، ټاکل شوې وه چې په لسو ورځو کې باید بین الافغاني خبرې پیل شي، خو له هغه نېټې میاشتې تېرېږي او بین الافغاني خبرې نه دي پیل شوې. طالبانو د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره د پینځه زره طالب زندانیانو خوشي کول مهم شرط ټاکلی و، چې اوس ویل کېږي پر همدې شرط د نانذریو له امله بین الافغاني خبرې ځنډېدلې دي. کابل نیوز ته یو شمېر باوري سرچینو ویلي چې د بین الافغاني خبرو پیل تر نامعلومې نېټې ځنډېدلی دی. سرچینه کاږي د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د زندانیانو د خلاصون پر سر اختلاف د بین الافغاني خبرو د ځنډ لامل دی. د سرچینې په خبره: ((اساساً ټاکل شوې وه، چې د سولې بین الافغاني مذاکرات د جولای په ۱۵مه په دوحه کې ترسره شي، خو ویل کیږي چې د ۵ زره طالب بندیانو له جملې د ۵۹۷ له ازادولو سره د افغان حکومت د مخالفت له امله مذاکرات ځنډېدلي دي)).

بلخوا د سولې له خبرو باخبره کسان هم پر دې باور دي چې بین الافغاني خبرې ځنډېدلي دي او تر نامعلومې نېټې د ځنډ د راتګ پخلی کوي. تر اوسه افغان حکومت او طالبانو د بین الافغاني خبرو د ځنډېدو په تړاو په رسمي ډول څه نه دي ویلي، خو د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي بیا وايي چې دوی د بندیانو خوشي کولو ته ژمن دي، بین الافغاني خبرې باید ژر پیل شي، خو د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي دوام د دغو خبرو په لاره کې ستر خنډ دی. صدیقي په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل، افغان حکومت د سولې لپاره کلکه اراده لري او تر نن پورې یې ټول هغه اقدامات ترسره کړي دي چې د سولې په چارو کې اسانتیا راولي. د صدیقي په وینا: ((موږ د زندانیانو خوشي کولو ته ژمن یو، موږ ټولې هغه هڅې ترسره کې چې وکړی شي بین الافغاني خبرې اسانه کړي)).

د ولسمشر ویاند طالبان تورنوي چې د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې د اوربند او تاوتریخوالي د کمولو غوښتنې ته یې پام نه دی کړی. د ده په خبره، طالبانو له امریکا سره تر هوکړې وروسته هم تاوتریخوالي ته ادامه ورکړې ده او دغه تاوتریخوالی د سولې په لار کې تر ټولو ستر خنډ دی. افغان حکومت تر دې وړاندې هم طالبان تورن کړي دي چې د سولې هڅو ته درناوی نه کوي او د ټولو غوښتنو او شرطونو پر خلاف یې تاوتریخوالي ته ادامه ورکړې ده.

بلخوا د ولسي جرګې غړي بیا حکومت تورنوي چې د سولې په برخه کې ربښتینی نه دی. د ولسي جرګې غړی پرویز عرب وايي، حکومت د سولې لپاره اراده نه لري. د ده په خبره: ((که موږ پوه شو چې د جګړې له لارې پایلې ته نه شو رسېدلی، نو ښه لاره یې سوله ده، باید بین الافغاني خبرې پیل شي، خو موږ وینو چې حکومت د سولې لپاره اراده نه لري)).

بلخوا زلمي خلیلزاد په وروستیو ورځو کې د بین الافغاني خبرو د ژر پیلېدو خبر ورکړی و. هغه ویلي وو چې ژر به بین الافغاني خبرې پیل شي. ولسمشر غني هم څو ورځې وړاندې په خپله یوه مرکه کې وویل چې ژر به طالب زندانیان خوشي کېږي او بین الافغاني خبرې به پیلېږي.

## ولسمشرغني: که روانه جګړه همداسې دوام وکړي، د سولې خبرې له جدي ستونزو سره مخ کېدای شي

په افغانستان کې د سولې په اړه د سیمه ییزې اجماع د پیاوړتیا غونډه د افغان حکومت په کوربهتوب د سیمې د هېوادونو په ګډون پیل شوه.

غونډه تېره ورځ د ویډیو کنفرانس له لارې پیل شوه. ولسمشر محمد اشرف غني د غونډې په پرانېستونکې وینا کې وویل چې په دې وروستیو کې د طالبانو بریدونه زیات شوي او که طالبان جګړه روانه وساتي، د سولې هلې ځلې له جدي ستونزو سره مخامخېږي.

د ارګ اعلامیه وايي چې غني د غونډې ګډونوالو ته ویلي چې افغان حکومت د جګړې ختمولو لپاره سیاسي اراده او ظرفیت لري او طالبانو ته مو یوه سیاسي حل لاره وړاندې کړې چې له تاوتریخوالي لاس واخلي.

هغه وویل چې په افغانستان کې د جګړې ختمولو لپاره نړیواله او سیمه ییزه اجماع موجوده ده او د سیمې او ګاونډیو قوي ملاتړ به افغانستان سره مرسته وکړي چې د سولې هدف ته ورسیږي.



غني همدغه راز د افغانستان د «ثابت قدم» ملګري په توګه د امریکا څخه مننه وکړه چې د افغانستان د سولې لپاره یې په ګډه د سیمه ییز او نړیوالې اجماع لپاره هلې ځلې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې مخکې ولسمشر غني له ملي تلویزون سره په یوې مرکې وویل چې د افغانستان د سولې لپاره ملي، سیمه ییزې، نړیوالې او د اسلامي هېوادونو اجماع ته ضرورت دی. هغه وویل چې د افغانستان قضیه ډېره پېچلې ده او ډېر اړخونه لري.

د افغان حکومت په کوربهتوب داسې مهال د سیمې د شل هېوادونو دا غونډه جوړېږي چې ټاکل شوي چې طالبانو سره بین الافغاني مذاکرات پیل شوي وی، خو اوس سرچینې وايي چې د بندیانو د خوشي کېدو پر نانذریو دغه پروسه تر نامعلومې مودې پورې ځنډولې ده.

امریکا د روان کال د فبرورۍ په ۲۸ له طالبانو سره د سولې تړون لاسلیک کړ چې په افغانستان کې د امریکا تر ټولو اوږده تاریخي جګړه ختمه شي. د تړون له مخې افغان حکومت به ۵۰۰۰ طالب بندیان ازادوي او طالبان به ۱۰۰۰ افغان سرتېري خوشي کوي او بیا به بین الافغاني مذاکرات پیلیږي.

د افغانستان د ملي امنیت شورا وايي چې د طالبانو له لورې د ۵۰۰۰ کسانو په ورسپارل شوي لست کې ۶۰۰ هغه کسان دي چې جنايي دوسیې لري او افغان حکومت هغوی نه خوشې کوي.

د بشري حقونو سازمان:

## د جګړې ښکېل اړخونه ملکیانو ژوند ته پام نه کوي

په افغانستان کې د بشري حقونو سازمانونه وايي، د ملکیانو د مرګ ژوبلې زیاتېدل دا ډاګه کوي چې د جګړې ښکېل لوري د ملکیانو ژوند ته درناوی نه کوي.

د افغانستان د بشري حقونو سازمان وايي، د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې تر لاسلیک وروسته په افغانستان کې د جګړې لپاره کوم جواز نه پاتې کېږي.

خو د سازمان په حواله، د هغې هوکړې له لاسلیک سره سره، په افغانستان کې د ناامنیو پېښې روانې دي او ملکیانو ته هم پکې د سر او مال زیانونه اړوي.

د دغه سازمان مشر لعل ګل لعل ازادي راډیو ته ویلي، د ملکیانو د مرګ ژوبلې مستقیم مسوولیت د جګړې ښکېلو لوریو ته اوړي.

هغه زیاته کړې: «بیا هم موږ د جنګ پر ښکېلو خواوو په کلکه غږ کوو، چې نور په افغانستان کې د انسان وژنې، مسلمان وژنې او افغان وژنې لپاره هېڅ مجوز نه پیدا کېږي، هغه هم وروسته له هغې چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه، چې د هغې په رڼا کې بین الافغاني خبرې پیلېږي، اسیران تبادله کېږي او د دې سولې په ترخ کې به په ټول هېواد کې یو عمومي اوربند رامنځته کېږي، که چېرې په افغانستان کې وروستۍ پېښې چې قربانیان یې ملکیان دي او حکومت دغه راز طالبان یې مسوولیت نه اخلي، په دې خاطر چې په اکثرو کې ملکیانو قرباني شوي دي، دا موږ ته هېڅکله د منلو وړ څکه نه دي، که دوی له دغو پېښو ځان منکروي دا ورسره نه شو منلی؛ ځکه د جګړې لامل دوی دي.»

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا متحدو ایالتونو او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړه د فبرورۍ پر ۲۹مه په قطر کې لاسلیک کړه، چې له مخې یې طالبانو د نورو مسایلو تر څنګ په افغانستان کې د تاوتریخوالي کمولو ژمنه کړې وه.

تر هوکړې وروسته هم په افغانستان کې ناامنۍ او جګړې کمې شوې نه دي. د امنیت شورا وايي، د دې موافقې تر لاسلیک وروسته د مارچ له لومړیو د اپرېل تر ۱۹ مې د طالبانو له خوا ۳۳۷ ملکیان وژل شوي، ۴۵۲ تنه ټپیان او ۱۶۴ تنه نور تښتول شوي دي، خو طالبانو دغه راپور رد کړی دی.

د ناامنیو تر ټولو تازه مورد د جون پر ۲۹مه د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې د یوې دودیزې مېلې پر مهال د شاوخوا ۳۰ ملکیانو وژل کېدل وو. دغه پېښه له هغې وروسته لانجمنه شوه، چې وسله والو طالبانو د ملي اردو د ۲۱۵ میوند قول اردو کار وباله او حکومت یې لا هم مسئولیت پر طالبانو اړوي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی ماموریت یا یوناما او د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي، چې د دوی د موندنو له مخې، د طالبانو د یوې حملې په ځواب کې د افغانستان ملي اردو درې هاوانونه توغولي چې په نتیجه کې یې په یوه دودیزه مېله کې نږدې ۳۰ ملکیان وژل شوي او ۳۵ نور ټپیان شوي دي، خو د هلمند ولایت چارواکي وايي، دغه توغندي د وسله والو طالبانو له خوا توغول شوي او ملکیانو ته مرګ ژوبله هم وسلوالو طالبانو اړولې ده.

# د امریکا د روغتیايي چارواکو خبردای؛

## که په متحده ایالتونو کې د کرونا خپرېدل په همدې ډول دوام وکړي، وضعیت به له کنټروله ووځي

په امریکا کې د کرونا ویروس د تازه پېښو زیاتوالي د دغه هېواد روغتیايي چارواکي اندېښمن کړي دي. دا په داسې حال کې ده چې د جولای له پیل راهیسې په وروستیو څو ورځو کې په دغه هېواد کې شاوخوا پنځوس زره نوې مثبتې پېښې ثبتېږي.

د تازه شمېرو له مخې، په دغه هېواد کې له دریو میلیونو زیات کسان پر کرونا ویروس اخته چې له دې ډلې یې ۱۳۲ زره او ۷۲۲ مړه شوي دي. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د سویل او لوېدیځ اکثریت ایالتونه د کرونا د مثبتو پېښو د بې ساري زیاتېدو شاهدان دي. د دغه هېواد د روغتیا د برخې چارواکو ویلي چې که دا پېښې همداسې دوام وکړي، ښايي وضعیت له کنټروله ووځي.

اریزونا، کلیفورنیا، ټکزاس او فلوریډا له ګواښ سره مخ دي او دوی چې کاروبارونه یې تر نورو وختي بیا پرانیستي وو، اوس مخکینې حالت ته د بیا ور ګرځېدو په لټه کې دي.

په اکثرو دغو ایالتونو کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو چټک زیاتوالي د دغه هېواد روغتیايي سیستم په تېره بیا روغتونونه له سخت فشار سره مخ کړي دي. په روغتونونو کې ناروغانو ته کټونه نشته او ډېرې ستونزې یې جوړې کړي دي.

همدغه فشار ته په کتو، د روغتیايي سکټور چارواکي په تېره بیا هغه چې له کرونا ویروس سره د مبارزې کاږله ده، اوسنې حالت ته زیات اندېښمن دي.

دې ګواښونو چارواکي او روغتیاپالان اړ کړي چې له حکومته وغواړي، څو خلکو ته په کورونو کې د پاتې کېدو امر صادر کړي. د اریزونا د مرکز فینیکس ښاروالې کېټ ګالیګو ویلي چې باید خلکو ته باید په کورونو کې د پاتې کېدو فرمان ژر صادر شي.

اریزونا چې تر ټولو وروسته ګرځبندیز تطبیق کړ او ژر یې کاروبار بیا پرانیست، اوس په امریکا کې په کرونا ویروس د اخته شویو خلکو د شمېر او د مخ په زیاتېدونکي بهیر په اړخه په لومړي سر کې دی.

په ټکزاس کې هم د استون او هیوسټون د لویو ښارونو مشران له حکومته غواړي چې خلکو ته په کورونو کې د پاتې کېدو امر ژر تر ژره صادر او تطبیق کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د ټرمپ ادارې په هڅو، په اکثریت ایالتونو کې کاروبارونه بیا پرانیستل شول، خو اوس د کرونا وبا بیا خپرېدو دا هڅې له ماتې سره مخ کړي دي.

ویل کېږي ځینې ایالتونه په دې کې پاتې راغلي چې د کاروبارونو تر بیا پرانیستلو وروسته اړوند روغتیايي پروتوکولونه تطبیق کړي.


## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه

### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايۍ
### څوارلسم څپرکی




مشري هغه وړتیا ده چې ټول له یو بل سره نښلوي. مشري هغه څه ده چې لوی تجارتونه جوړوي.

ښايي فکر کوئ چې د مشرۍ مهارتونه باید په لومړۍ دارايۍ «د رښتیني ژوند کاروباري زده کړه» یا دویمه دارايۍ «د ځاني پرمختګ ګټوره لار» کې ځای شوي وای. خو واقعیت دا دی چې د مشرۍ مهارت دومره اړین، پیاوړي او کامیاب دي چې باید یو بشپړ څپرکی ورته ځانګړی شي.

مشري هغه وړتیا ده چې ټول له یو بل سره نښلوي. مشري هغه څه ده چې لوی تجارتونه جوړوي.

له داخلي اړخ او روان سره مستقیمې خبرې کول

د شلمې پېړۍ په شپږمه او اوومه لسیزه کې را لوی شوم. په هغه وخت کې چې ما اورېدل، تر ټولو غوره ویناوال جان اف کېنډي و. د (۱۹٦۱م) په مې میاشت کې یې په وینا کې خلکو ته وویل چې په دې لسیزه کې به سپوږمۍ ته انسان ولېږو. زموږ ساینسپوهان هغه وخت پر دې هېڅ نه پوهېدل چې څنګه به دوی داسې یو لوی کار وکړي. دا کار د خلکو تر هیلو لوی او په رښتیا د زړورتیا خبره وه. خو دا کار وشو. د دې لسیزې درې کاله نه وو پوره شوي چې جان اف کېنډي ووژل شو. د ده مشري دومره قوي وه چې د ده تر مرګه وروسته یې هم دوام وکړ. دی چې ووژل شو، د ویتنام پېښه رامنځته سوه، ولس په شور کې شو او پر څو برخو ووېشل شو او سره له چې په (۱۹٦۸م) کې ولسمشري د جان اف کېنډي له مرستیال څخه د ده سیال ریچارډ نیسکو ته په لاس ورغله، بیا هم موږ بریالي شوو چې په همدغه لسیزه کې په (۱۹٦۹م) کې انسان سپوږمۍ ته واستوو.

دا مشر ي ده، هغه وړتیا چې په مرسته یې خپلې موخې او لید په حقیقت بدلوئ. حقیقي مشران غرونه په حرکت راولي.

په ویتنام کې دې ته متوجه شوم چې حقیقي مشران سخت نه وي، هغوی نورو ته شور نه کوي او نه یې له جسمي اړخه تکلیفوي. پوه شوم چې زړور مشران ډېر وخت چوپ وي؛ خو کله چې غږېږي، نو د خلکو له روح او روان سره خبرې کوي.

په هغه تجارت کې پیسې لاس ته نه راځي چې ښه تولیدات او خدمات وړاندې کوي. پیسې په هغو تجارتونو کې وي چې ښه مشران لري. ټول لوی مشران د خپلو تجربو او کیسو ښه بیانوونکي وو. دوی خپل هدف او لید په ډېره اسانۍ او روښانه ډول له خلکو سره شریکولی شوای. حضرت عیسی، حضرت محمد، مادر ټرسا او ګاندي ته وګورئ. دوی ټول ښه مشران وو، مانا دوی ټولو خپلې تجربې او کیسې ښې واضح کولی شوای.

په هغه تجارت کې پیسې لاس ته نه راځي چې ښه تولیدات او خدمات وړاندې کوي. پیسې په هغو تجارتونو کې وي چې ښه مشران لري. هغه تجارت چې د خپلو تجربو انتقال او له نورو سره د هغو شریکول یې هېر کړي وي، ناکامېږي، که څه هم زرګونه ډوله تولیدات ولري. کله چې یو تجارت له مالي ستونزې سره مخ کېږي، زیات وخت یې ستونزه په مشر کې وي. ځکه دوی نشي کولای چې خپله موخه او لید له نورو سره شریک کړي. ښايي دوی هوښیار او ځیرک وي؛ خو په اړیکو او خبرو کې کمزوري وي.

د تجارت لپاره چې د مشرۍ کوم مهارتونه اړین دي، د E کونج یانې کارمندۍ او S کونج یانې ازاد کار د مدیریت له مهارتونو سره خورا ډېر توپیر لري. تېروتنه ونه کړئ. مدیریتي مهارتونه اړین دي؛ خو د مشرۍ او مدیریت د مهارتونو ترمنځ ځمکه او اسمان توپیر شته. ښايي یو مدیر ښه مشر نه وي او کېدای شي یو مشر ښه مدیر ونه اوسي.

د ازاد کاروبار او کوچنیو تجارتونو زیات ماهرین مې لیدلي. دوی غواړي خپل کاروبار ته پرمختګ ورکړي؛ خو نه یې شي کولای. یو دلیل یې د مشرۍ د مهارتونو نه درلودل دي. څوک یې خبرو ته غوږ نه ږدي. کارکوونکي یې نه باور پرې لري او نه کومه هڅونه ترې ترلاسه کوي. ما د منځنۍ کچې ډېر مدیران لیدلي چې د لویو شرکتونو په رامنځته کولو کې ناکام شوي دي. ځکه له خلکو سره یې د اړیکو او خبرو وړتیا نه لرله. نړۍ له داسې خلکو ډکه ده چې د اړیکو او خبرو د وړتیاوو نه درلودلو په خاطر یې د ژوند ملګرۍ/ملګرې نه ده موندلې.

اړیکې د ژوند پر هره برخه اغېز کوي او د بازارموندنې شبکې تر ټولو وړاندې دغه مهارت در زده کوي. د شبکه یي بازارموندنې مشر ان ځانونه «زیاتې پیسې ګټونکي، تجربه شریکوونکي او کیسې کوونکي» ګڼي. په رښتیا هم دوی تر ټولو زیاتې پیسې ګټي او دلیل یې دا دی چې دوی په ډېر ښه ډول خپلې تجربې له نورو سره شریکوي او ور انتقالوي یې.

کله مې چې د شبکه یي بازارموندنې غونډو او مجلسونو ته تګ پیل کړ، نو د واقعي ژوند بریالي تجاران مې ولیدل چې هرڅه یې له صفر پیل کړي وو. زیاتره یې ښوونکي وو، له خپلو ښوونو یې ګټه اخیستې وه، له تیورۍ څخه نه. کله چې به په تجارتي سمینارونو کې ورسره کېناستم، د دوی له سیده او ښکاره خبرو سره به موافق وم او دغه د تجارت په حقیقي نړۍ کې د بریا سبب ګرځي.

**دوام لري...**

# محمد نظام الدین اولیا

شفیق امیرزی



سید محمد بن احمد بن علي دهلوي یا سید محمد نظام الدین اولیا په ٦٣٣هـ ق کال کې په هند کې زیږېدلی دی. دی په شاه نظام الدین اولیا، شیخ نظام الدین اولیا، شاه نظام اولیا، نظام دهلوي، نظام الدین دهلوي او نورو نومونو مشهور دی. هغه په هند کې په اتمه پېړۍ کې لوی عارف او صوفي تېر شوی دی. دی د چشتیه طریقې مهم لاروی او په هند کې د بشردوستۍ سمبول او د درناوي وړ شخصیت دی. دی په چشتیه طریقه کې د خواجه معین الدین چشتي څلورم خلیفه یا ځای ناستی و.

پلار یې د بخارا و. په هند کې د اسیایي پادشاهانو له واکمنیو سره سم یې هند ته مهاجرت کړی و او په لاهور کې اوسېده. له لاهور د اتراپردیش ایالت بدیوان نومې سیمې ته کډه کوي. دا ځای د دهلي په ختیځ کې پروت دی. نظام الدین هم په همدې سیمه کې زیږېدلی دی. دی پنځه کلن و چې پلار ي ومړ. مور یې بي بي زلیخا د ده پالنه او روزنه په یوازې ځان کوله. هغه یوه پرهیزګاره، با دیانته او زاهده ښځه وه. د زوی په روزنه او تربیه کې یې خورا ډېره هڅه وکړه. نظام الدین په بدیوان کې زده کړې پیل کړې او د مور تر څارنه او روزنه لاندې و. د هغه وخت مروج علوم یې همدلته له ابتدايي زده کړو پیل کړل. لږ موده چې تېره شوه د علم د زده کړې په موخه یې له مور سره یو ځای ډهلي ته لاړ. د نظام الدین د ژوند په اړه ډېر معلومات په آیین اکبري کې راغلي دي. دا کتاب د مغلو د دربار وتلي لیکوال او مورخ ابوالفضل علامي لیکلی دی. دی د اکبر پادشا وزیر هم و او په شپاړسمه پېړۍ کې یې دغه کتاب لیکلی دی.

خواجه نظام الدین له تصوف او دیني علومو سره مینه لرله. یوه شپه د ډهلي په جامع جومات کې و چې د مؤذن له خولې د یوه آیت له اورېدو وروسته یې په زړه کې لیونۍ مینه پیدا شوه. له همدې ځایه په تصوف او صوفیانو پسې روان شو. له هغه ځایه لاړ د شیخ فریدالدین شکرګنج دربار ته. له دې وروسته هم له شیخ فرید سره و او هم یې د چشتیه طریقې له نورو صوفیانو لکه قطب الدین بختیار کاکي، معین الدین چشتي او نورو زده کړې پیل کړې او د چشتیه طریقې او تصوف په رموزو یې ځان پوه کړ. اوږده موده یې زده کړو او تعلیم ته ادامه ورکړه. دی همدلته تر زده کړو وروسته د نورو تصوفي مشرانو له لوري د ارشاد مرحلې ته ورسېد. بیا دی هم د چشتیانو له لوري وګومارل شو او په دې لار کې تر ریاضت وروسته یې ډېر پیروان او مریدان پیدا کړل. سلګونه کسانو یې لار تعقیب کړه او د ده افکارو ته یې درناوی درلود.

نظام الدین اولیا یتیم و، اقتصادي وضعیت یې ښه نه و، په لومړي سر کې له بېوزلۍ سره مخ و. ده هېڅ وخت له هېچا هېڅ نه منل. له چا یې څه نه اخیستل. تر لږ مودې وروسته په هند کې مشهور صوفي شو او زرګونه مینه وال یې پیدا کړل. د هند په تېره د ډهلي له ګوټ ګوټ د مسلمانانو مشران او آمران پرې را مات شول. د اسلامي نړۍ پادشاهانو له ده د لیدنې غوښتنه کوله. له دې ډلې سلطان جلال الدین غلجي له ده وغوښتل چې ورسره ووینې او د ده د ملګرو او دربار ډېر قدر یې کاوه.

نظام الدین اولیا د چشتیه طریقې پیرو و او په دې طریقه کې عشق او محبت خدای ته د رسېدو لار ګڼل کېده. خواجه نظام الدین هم د خپلو استادانو په څېر په دې باوري و چې د مینې او محبت له لارې خدای ته رسېدلی شي. هغه له بشریت او انسانیت سره مینه له خدای سره د مینې لپاره غوره لار ګڼله. دی ځکه په هند کې ډېر شهرت او ملاتړي لري چې فکر یې پر انسان دوستۍ ولاړ و. ټولو مذاهبو ته یې درناوی درلود، له همدې امله د ټولو مذهبونو خلک ده ته راتلل. هغه د نړۍ او انساني ټولنو په اړه ځانګړی لیدلوری درلود. د هند په کثرتي ټولنه کې یې د مذهبونو کثرت ته هم درناوی درلود. د هند تاریخ لیکوال وایي چې د نظام الدین انساني چلند په نوي ډهلي کې یو ځانګړی زغم او مینه رامنځ ته کړه. دی د دې سبب شو چې د ډهلي د خلکو لیدلوری بدل کړي. همدا راز په مسلمانانو کې یې هم دا لیدلوری رامنځ ته کړ چې د ډېرو دنیوي مسایلو پر ځای دې د عرفان لور ته مخه کړي. خلک یې وهڅول چې عبادت وکړي او د مادیاتو پر ځای تر ډېره معنویاتو ته پام وکړي او په دې توګه خپل شخصیت او کورنیو ته رښتینې او ښنسټېزه وده ورکړي.

د نظام الدین اولیا تر ټولو مهمه ځانګړنه دا وه چې د اسلامي فرهنګ او معارف په پراختیا او خپرولو کې یې مهم رول درلود. ده نه یوازې پخپله په دې برخه کې هڅه کوله بلکې خپل خلفا، ملګري او مریدان یې هم دې ته هڅول چې د اسلامي فرهنګ په خپرولو کې هڅه وکړي. د هند په بېلو برخو کې یې تصوف او اسلامي معارف خپور کړ. خپل خلفا به یې لېږل، شاګردان به یې روزل او هغه به یې خپلو سیمو ته د اسلامي فرهنګ د خپرولو په موخه لېږل. خواجه نظام الدین اولیا سره له دې چې یو متصوف شخص و، لیکوال او د دیني متونو تنظیموونکی هم و. فواید الفواد، راحت المحبین، افضل الفواد او سیر الاولیا یې مهم کتابونه دي. د خواجه نظام الدین فواید الفواد کتاب امیر حسن سجزي چې د هند په سعدي هم مشهور دی، راټول کړی دی. په دې کتاب کې یې د چشتیه طریقې د مهمو علماوو او مخکښانو معرفي او ژوند لیک راټول کړي دي. دا د چشتیې طریقې د تاریخ او پېژندګلوۍ په اړه مهم کتاب ګڼل کېږي.

د نظام الدین په مریدانو او شاګردانو کې د هغه وخت مشهور شاعران او لیکوالان راټول شوي وو. امیر حسن دهلوي او د فارسي ژبې مشهور شاهر امیر خسرو دهلوي هم د نظام الدین له مریدان وو، چې د ده په ستاینه کې یې شعرونه هم ویلي دي. د ده شاګردانو او خلفاوو هر یوه په یوه سیمه کې فعالیت پیل کړی و او شاګردان یې روزل. یو شاګرد یې خواجه نصرالدین په ګجرات او پنجاب کې خورا مشهور و او ډېر مذهبي تاثرات یې په میراث پرې ایښي وو. بل شاګرد یې سراج الدین په بنګاله، بیهار او اسام کې د اسلامي متونو او ارشاداتو په تدریس بوخت و او سلګونه شاګردان یې روزل. بل شاګرد یې برهان الدین په دکن او د هندوستان په مرکزي سیمو کې خلکو ته د تصوف او اسلامي فرهنګ تدریس کاوه.

نظام الدین اولیا واده نه و کړی، خو د جمال الدین په نامه یې یو ورور درلود. ده د هغه زوی ته د خپل زوی په سترګه کتل او د ورور تر مړینې وروسته یې د ده سخته پالنه کوله. دی یې په زده کړو کې بوخت ساته او تربیې ته یې ځانګړې پاملرنه کوله. دی لوی شو او واده یې وکړ، بیا په بیهار کې د چشتیه طریقې ستر خلیفه وو. لمسیانو او کړوسیانو یې تر ډېره د ده لار پالله او سلګونه مریدان او پیروان یې لرل. ویل کېږي چې ده چشتیه طریقه خورا پراخه کړه او لسګونه کسان یې د هند په بېلو برخو کې د دې طریقې د پراختیا لپاره وګومارل. معلومات ښیي چې د کورنۍ سلسله یې لا هم په بیهار کې ژوند کوي او په هند کې له درناوي برخمن خلک دي.

خواجه نظام الدین اولیا اوولس کلن و چې په تصوف او عرفان پسې ووت. ده له لومړي سره له انسان او انسانیت سره مینه لرله او مور یې دی له تاوتریخوالي او جګړو لرې لوی کړی و. د مور هیله یې هم دا وه چې دی باید ستر عالم شي. نظام الدین د تصوف او صوفیزم پر تیوري دومره ټینګار نه کاوه، بلکې پر دې یې ټینګار کاوه چې انسان عملاً باید ځان سپېڅلی کړي. د حق لار وپلټي، له دنیاوي شخړو او ناندریو لرې شي او انساني کرامت ته د زړه له تله درناوی ولري. همدا لامل و چې د نظام الدین تګلارې دومره ملاتړي او پلویان پیدا کړل. له بلې خوا چشتیه طریقې په هند کې له لومړي سره هم تر نورو تصوفي طریقو ډېر پلویان لرل. ځکه د دې طریقې تګلاره بېله وه او د هند د خلکو له طبعي عادتونو او خصلتونو سره یې ورته والی درلود. چشتیه طریقې ان د مغلو پادشاهانو دربارونو ته لار موندلې وه، له خلفاوو به مشوره اخیستل کېده او په مهمو مجلسونو کې به د دوی استازي حاضر وو. نظام الدین اولیا د ډهلي په بېلو برخو کې ژوند کړی دی. په پای کې یې په غیاث پور کې د ډهلي له ګڼې ګوڼې لرې خپله خانقاه ودانه کړه. دا ځای د خلکو د ګڼې ګوڼې په سیمه بدل شو او د ډهلي شتمنو او نیستمنو په یوه حال او یو وخت کې دې خانقا ته تګ راتګ کاوه او له علمي او معنوي لارښوونو برخمن کېدل. نوموړي نږدې ٦۰۰ مشهور خلفا لرل چې ځینې یې له ده سره په ډهلي کې وو او ځینې یې لرو پرتو سیمو ته د خلکو د تدریس او لارښوونې لپاره لېږلي وو. د ده ډېری شاګردان لوړو معنوي مرتبو ته ورسېدل او په لویو حکومتي څوکیو یې هم دنده تر سره کوله.

بالاخره د هند پر ځمکه دغه ستر سني مذهبه صوفي او عارف د ۱۳۲۵ م کال د اپرېل په درېیمه ومړ. د ده مزار د ډهلي په درګاه نومې سیمه کې خورا مشهور دی. هر کال زرګونه کسان د ده مزار ته ورځي، په کال کې یوه ورځ د ده لپاره ځانګړي مراسم جوړېږي او زرګونه خلک پکې ګډون کوي. له ده سره په دې سیمه کې مشهور نور شخصیتونه هم خاورو ته سپارل شوي او د خلکو له درناوي برخمن دي.

د نظام الدین اولیا د مقبرې اوسنۍ بڼه په ۱۵٦۲ م کال کې جوړه شوې ده. د لومړي ځل لپاره بیا د ډهلي محمد تغلق نومي پادشا جوړه کړه، چې وروسته بیا څو څو ځله بیا رغول شوې او ځینې برخې یې بدلې شوې دي؛ خو اوسنۍ بڼه یې همغه د ۱۵٦۲ م کال د معمارۍ بڼه ده. مقبره یې د ډهلي په تر ټولو له ګڼې ګوڼې ډکه سیمه کې چې د ده په نامه نومول شوې، ودانه شوې ده. دلته د همایون مغولي پادشا مقبره هم نږدې ده. هر کال زرګونه کسان د نظام الدین اولیا زیارت ته ورځي او هندي مسلمانان ځانګړې عقیدت ورته لري. د ده د عرس په مراسمو کې خطیبان ویناوې کوي، خطبې وایي او خلکو ته دعوت ورکوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۰۵ |
| € | ۸۵,۵۰ |
| Rp. | ٤٦٤ |
| ₹ | ۱۰۰۰ |
| ¥ | ۹,۸۰ |
| £ | ۹٤,۳۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# د یوې موخې بیه

ژباړه: امان الله «حنیفي»

د هغه نوم کوین میرز دی. هغه په جورجیا ایالت کې په کلیسا کې کشیش دی. هغه ان له ځوانۍ غوښتل چې کشیش شي، هغه وخت ۱٦ کلن و، له دې سره په ځنګ کې یې له موټرسایکل سره هم ډېر مینه درلوده، لومړی موټرسایکل یې چې واخیست، هغه دویم لاس او یو څه ارزانه و. هغه وخت یې د نوې ځوانۍ اخري کلونه وو، هغه دا وخت له تفریحي کښتۍ سره هم مینه پیدا کړې وه.
کوین د نوې ځوانۍ له وخته غوښتل چې داسې یوه کلیسا جوړه کړي، چې پر ټولنه اغېز ولري او زرګونو خلکو ته خدمت وکړي. کله چې هغه ۲٦ کلن شو، له میشینګانه جورجیا ته لاړ، څو هلته کلیسا جوړه کړي. هغه د دغه کار لپاره هرڅه کورنۍ او ملګري پرېښودل، هغه غوښتل چې د خپلې موخې د لاس ته راوړلو لپاره لازمه بیه پرې کړي، خو دا بیه له هغه ډېره زیاته وه کومه چې ده تصور کړې وه.
هغه د ډېرې ژر بریا انتظار کاوه، هغه هیله من و چې وبه شي کولای په ۲۵۰ کسانو خپل کار شروع کړي، کلیسا د دومره کسانو په یو ځای کېدو سره پر خپلو پښو درېدای شوای، خو کلیسا له سلو په کمو کسانو دا کار شروع کړ او شپږ کاله یې شمېر همدا و. کلیسا پیسو ته اړتیا پیدا کړه، کوین او مېرمنې یې هغه پیسې چې د کور اخیستو لپاره یې جمعه کړې وې، د کلیسا لپاره خرڅ کړې. کله یې چې پس انداز پیسې ختمې شوې، حتی دومره یې بیا نه شوای کولای چې ځان په درماني لحاظ بېمه کړي. همدا وخت یې یو زوی ناروغ شو، د دوا درملو پیسې یې زیاتې شوې او هغه پرې پوروړی شو. بالاخره کوین مجبور شو چې ساختماني کارونو ته مخه کړي، څو خپلې اړتیاوې پوره کړي. داسې ښکارېده چې نور هغه خپله موخه له لاسه ورکړې وه.
کوین مجبور شو چې په میشینګان کې بیا خپل پخواني رییس ته ورشي، څو له هغه سره بیا کار پیل کړي، خو رییس یې هغه د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره ډېر زیات وهڅاوه.
کلیسا د فعالیت په اووم کال لږ لږ بدلون وکړ، هغې ورې کلیسا پرمختګ وکړ، کوین هغه معمولي او لږ پرمختګ ته په کتو، دا د ځان لپاره د ریسک اخیستو یو ښه فرصت وباله. هغه هلته ځمکه وپلورله او ساختمان یې پرې جوړ کړ. دا څه اسانه کار نه و، خو هغو خلکو چې د کوین پر کار یې باور درلود، هغه له کوین سره د مرستې کولو لپاره هرې قربانۍ ته چمتو شول. د نوي ساختمان په پیل سره کلیسا ډېر پرمختګ وکړ.
هماغه وخت کوین د نورو موخو د لاس ته راوړلو چانس هم پیدا کړ. کله یې چې مور مړه شوه، هغه پیسې چې ده په میراث وړې وې، وبې شوای کولای چې پر هغه موټرسایکل واخلي. دا هغه څه وو چې ۲۰ کاله یې ورته انتظار کړی و. هرکله به چې له کاره ستړی شو، پر خپل موټرسایکل به تفریح او چکر ته لاړ.
له هغه وروسته یې چې کلیسا نوي ساختمان ته انتقال کړه، د کلیسا د پرانیستې مراسمو ته راغلي کسان په هغه کې نه ځایېدل. مانا دا چې کسان له حد زیات وو. دا وخت کوین تر دې هم لویې ځمکې ته اړتیا درلوده. د مخکیني ساختمان مصارفو ته په کتو، دا دې ریسک اخیستل وو. اوس د لومړي ځل په پرتله په څو څو وارې لوی ریسک د هغه انتظار کاوه. هغه له دې وروسته څلور میلیون ډالرو ته اړتیا درلوده. کوین پوهېده چې د دومره ډالرو راټولول سخت کار دی. هغه پوهېده چې د دغه کار سر ته رسول به د هغه لپاره د ډېرو شخصي بیو پرې کول هم وغواړي. کوین وایي: «پوهېدم چې د ډېرې قربانۍ له ورکولو پرته نه شم کولای خپلو موخو ته ورسېږم. درې میاشتې په همدې فکر کې وم. هغه توصیه چې زه یې د تعقیبولو په لټه کې وم، له ما به د څومره شخصي بیې پرې کول وغواړي، ما خپله ډېر محدود شخصي امکانات لرل. زما ټوله سرمایه یوازې یو موټرسایکل و، البته د ډېرو کسانو لپاره یو موټرسایکل چنداني ارزښت نه درلود، خو دا بیا زما لپاره ډېره ارزښتناکه وسیله وه. د دې پرېکړې پایلې ډېر وخت انتظار غوښت، ما د همدې موخې لپاره کلونه کلونه خپلې هیلې او غوښتنې قرباني کړې، خو اوس هم دا موخه له ما د ډېر انتظار تمه لري. اوس دې پایلې ته رسېدلی یم چې خپلې ورې موخې مې باید د لویې هغې لپاره قرباني کړم.»
کوین هغه وخت د خپل موټرسایکل د له لاسه ورکولو خواشیني له بل چا سره شریکه نه کړه. خو په هر صورت، هغه اعلان وکړ چې خپل موټرسایکل کلیسا ته وقف کوي. خلک د هغه په دې کار سره متوجې شول، چې د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره د ځان تر قربانۍ بل مهم څه نشته، یا د موخو لاس ته راوړل له دې پرته بله لار نه لري.
بالاخره کلیسا بریالۍ شوه او د نوي پیل شوي ساختمان لپاره یې هم کافي پیسې وګټلې. د هغو کسان د شمېر په زیاتېدو سره چې د کلیسا په مراسمو کې یې ګډون کاوه، کلیسا خپل پرمختګ ته ادامه ورکړه. اوس یې هم باید د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره ډېر څه قرباني کړي وي.
د ۲۰۰۸ ز کال په جنوري میاشت کې کوین په ۹٦ جریبه ځمکه کې د ۲٦۰۰ کسانو په ګنجایش سره خپله کلیسا جوړه کړه. همدا اوس د هغو کسانو شمېر چې د دې کلیسا په مراسمو کې ګډون کوي، له ٦۰۰۰ اوړي.



کوین او ملګرې یې هرځل له مخکیني هغه د خپلې کلیسا د پرمختګ لپاره ډېره قرباني ورکوي. خو د موټرسایکل موضوع یې اوس هم له یاده نه ده وتلې.
ما د آرزو او موخې تر منځ د توپیر لپاره له محض څخه استفاده کړې ده. په نوې ځوانۍ او ۲۰ کلنۍ کې مې فکر کاوه چې دا دواړه یوه خبره ده. یانې موخه او هیله کوم توپیر نه لري. خو هرڅومره چې د خپلې موخې په اړه ژور فکر وکړی، هومره زیات پوهېږی چې د هغه لپاره باید ډېره قرباني ورکړی، ځکه چې نور کار تر دې هم سختېږي. باید د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره له خپلو ځینو غوښتنو تېر شو.
اوس هم ځینې بدلونونه د کوین انتظار کوي، ځکه اوس هم موخې لري. هغه باید له ځانه ډېره قرباني ورکول او زحمت ایستل وښیي.
«د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره سفر کول یو شخصي امر دی، باید د هغه لپاره شخصي بیه هم پرې کړئ.»
تاسې څه پرې کوی؟
ستاسې په باره کې څه ویلای شو؟ تاسې د خپلو موخو په اړه له خپلې قربانۍ څه زده کړي دي؟ تاسې د بیې پرې کولو پوښتنې ته څه ځواب ورکوی؟ «ایا حاضر یم چې د خپلې موخې بیه مې پرې کړم؟» هماسې لکه مخکې مې چې وویل، موخو ته د رسېدو سفر شخصي دی، پر همدې دلیل باید شخصي بیه هم پرې کړو.
زه نه شم کولای چې ستاسې تر ځنګ کېنم او ستاسې د موخو په اړه له تاسې وپوښتم او هم نه شم کولای چې تاسې ته ووایم چې ستاسې موخه له تاسې د څومره بیې پرې کول غواړي، خو کولای شم هغه موارد درته بیان کړم، چې د همدې بیې پرې کولو په اړه درسره یوڅه مرسته وکړي.
۱- موخې لرل مجاني دي، خو د موخو پر لور سفر کول بیا قرباني غواړي
له کوین سره مې د موخو په اړه خبرې کولې، هغه ویل، د هرې موخې پر لور سفر کول له کوم خنډ پرته پیل کېدای شي. دا خبره سمه ده، کله چې لومړی ځل پر خپلو موخو فکر کوی، دا یو ډول تفریحي کار وي، دا کار د بیې پرې کول هم نه غواړي، دا وخت هره موخه درته امکان لرونکې مالومېږي او جالبه دا چې دا وخت په ندرت سره د هرې موخې په اړه فکر کوی.
«په هر حال باید یوه ورځ د خپلو موخو لاس ته راوړونکي شی، تر هغه چې د خپلو موخو بیه مو پرې نه کړی، هغه نه شی تر لاسه کولای.»
د موخو د لاس ته راوړلو لپاره د هغه د پایلې په پرتله باید د ډېر څه وړاندوینه وکړئ. باید د زړه له تله وغواړئ چې د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره به لازمه بیه پرې کوی. په همدې دلیل د موخو پلوي ډېر دي، خو د موخو پلورونکي بیا ډېر کم دي.
۲- د موخو په مقابل کې پرې کېدونکې بیه مو باید له هغه چې فکر کوی، ژر خلاصه کړئ
فکر کوم چې ډېری خلک پوهېږي چې د خپلو موخو د تر لاسه کولو لپاره باید لازمه بیه پرې کړي. هغوی پوهېږي چې هرڅنګه وي، دا بیه باید یوه ورځ پرې کړي؛ خو پر دې بیا نه پوهېږي چې د هر بل کار تر سر ته رسولو ژر به د دې بیې پرې کولو ته مجبور شي.
که تاسې د خپلو موخو د تعقیبولو په حال کې یاستی، پوهېږی چې څه وایم. له دې پرته چې خپل سفر مو پیل کړی، هغه بیه چې باید پرې یې کړی، له ذهني واقعیته عیني واقعیت ته راځرګندېږي. ولې داسې کېږي؟ ځکه موخې تضادونه تعقیبوي او بحران زېږوي.
«هغوی چې پر موخو باور لري، شمېر یې له حد زیات دی؛ خو د موخو پلورونکي بیا ډېر کم دي.»
هغه وخت چې د موخو درلودو خبره کوی او د هغه پر لور د سفر کولو هڅه کوی، د دې سفر لپاره ټول ضروري مسایل خپله یو له بل سره راځرګندېږي. له حقیقتونو سره مخ کېدل داسې دي لکه تاسې چې مخ ته یخې اوبه واچوی. ډېری هغه کسان چې د داسې مسایلو تمه نه لري، مایوسه کېږي. ځینې نور بیا خپلې موخې ځنډوي او ځینې بیا په کلي صورت له خپلو موخو لاس اخلي.
ډېری هغه کسان چې د نوې ځوانۍ په دوران کې دي، ترې اورېدلي مې دي، له دې چې کلونه مخکې له خپلو موخو تېر شي، د خپلې خوښې وړ کار یې نه دی تعقیب کړی او له دې چې له فرصتونو یې ګټه نه ده اخیستې، سخت ځورېږي. خو کلونه وروسته چې کله د مخکنیو له تاسفه ډکو موخو په اړه فکر کوي، اوس په هېڅ قېمت نه شي کولای چې له خپلو مخکنیو موخو یوڅه لاس ته راوړي، د ځینو یا یوې ډلې کسانو لپاره اوس هم د ځینو موخو لاس ته راوړل اوس هم امکان لري، خو اوس باید د هغه د پرې کولو لپاره درنه بیه پرې کړي.
موخې لکه پیسې داسې دي، هرڅومره ژر مو چې پر خپلو پیسو پانګونه وکړی، هومره ژر یې ګټه لاس ته راوړلی شی. داسې فرض کړئ چې په ۲۵ کلنۍ کې به د لسو کلونو په اوږدو کې هر کال ۱۰۰۰ ډالر سپما کوی. کله چې ٦۵ کلنۍ ته رسېږی، ۱۱۲۵۳۷ ډالره پانګه به ولری. خو که په ۳۵ کلنۍ کې هر کال ۱۰۰ ډالره سپما وکړی او دې کار ته ۳۰ کاله دوام ورکړی، په ٦۵ کلنۍ کې به ۱۰۱۰۷۳ ډالره پانګه ولری. په همدې طریقه هرڅومره ژر چې د خپلو موخو لپاره لاس پکار او د هغه لپاره وجنګېږی، هومره ژر مو هغه ته د رسېدو امکان هم زیاتېږي.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



وایگل چاپ
WAYGAL
PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



سه شنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ ۱۷مه | د ۲۰۲۰ د جولای اوومه | ۵۶۳مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۵ | لمر ختل ۰٤:٤۷ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیگر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵٤

# پنج پروژۀ انکشافی به ارزش ۲،٦ میلیون دالر دربخش های معارف وتحصیلات عالی به امضا رسید



تفاهم نامه های پنج پروژه انکشافی به ارزش مجموعی ۲،٦ میلیون دالر در بخش های تحصیلات عالی ومعارف کشور، به امضا رسید.

درخبرنامه ای وزارت تحصیلات عالی آمده است که این تفاهمنامه ها دیروز میان وزیر اقتصاد، سرپرست وزارت تحصیلات عالی، معین وزارت معارف وسفیر هندوستان مقیم کابل به امضا رسید.

منبع می نویسد که تفاهم نامه های پنج پروژه از سلسله پروژه های انکشافی با تأثیرات بلند اجتماعی کمک کشور هندوستان برای افغانستان می باشند.

درخبرنامه به نقل از مصطفی مستور، وزیر اقتصاد نوشته شده است: «ارزش مجموعی این ۵ پروژه ۲،٦میلیون دالر است که به وزارت های معارف وتحصیلات عالی مربوط می شود.»

او افزود، سه پروژه ای که به وزارت معارف ارتباط می گیرد، شامل اعمار دو مکتب در یک ولسوالی ولایت بدخشان واعمار یک مکتب در مرکز ولایت نورستان است.


وزیر اقتصاد همچنان افزود دو پروژه از مجموع پنج پروژه که مربوط وزارت تحصیلات عالی می شود، شامل اعمار تعمیر تدریسی موسسه تحصیلات عالی ولایت فراه و اعمار سرک های داخلی پوهنتون البیرونی ولایت کاپیسا است.

عبدالتواب بالا کرزی، سرپرست وزارت تحصیلات عالی وعبدالسبحان رووف، معین مالی واداری وزارت معارف با سپاسگذاری از کمک های هندوستان به ویژه در بخش های تحصیلات عالی ومعارف، تعهد نمودند که در راستای نظارت از تطبیق به موقع این ۵ پروژه تلاش می کنند.

## نړۍ




# سعودي عربستان د حج د سږنيو مراسمو لپاره یو شمېر روغتیايي اقدامات اعلان کړل



سعودي عربستان د حج د سږنيو مراسمو لپاره چې یوازې په کور دننه محدود شمېر حاجیانو ته اجازه ورکول شوې، روغتیايي اقدامات اعلان کړل.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، سعودي عربستان دغه روغتیايي اقدامات د دې لپاره کړي چې د حج د مراسمو پر وخت کې د کرونا ویروس د نوې څپې د خپرېدو مخه ونیسي. د دغو اقداماتو له مخې، د خلکو پر راټولېدو بندیز لګول کېږي او حاجیانو ته اجازه نه‌ورکول کېږي چې له یو بل سره وګوري.

دا په داسې حال کې ده چې سعودي عربستان په تېره جون میاشت کې اعلان وکړ چې یوازې په کور دننه زرو حاجیانو ته اجازه ورکوي چې د حج په سږنيو مراسمو کې چې د جولای له ۱۹مې پیلېږي او د اګسټ تر ۲مې دوام کوي، ګډون وکړي. دا د سعودي عربستان په معاصر تاریخ کې لومړی ځل دی چې د حج د مراسمو لپاره له بهره سعودي عربستان ته د حاجیانو پر ورتلو بندیز لګول کېږي.

دغه‌راز د دغو نویو اقداماتو له مخې حاجیان اجازه نه‌لري پر کعبې لاس ولګوي، حاجیان به ټل ماسکونه اغوندي او په خپلو کې به لږترلږه یو نیم متر واټن ساتي. دا په داسې حال کې ده چې هر کال د حج په مراسمو کې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه شاوخوا دوو نیم میلیونو کسانو ګډون کاوه.

# راپورونه: اسراییل د ایران د څارلو لپاره اوفک-۱٦ په نوم سپوږمکۍ فضا ته لېږلې ده


اسراییلي چارواکو ویلي، چې یوه مصنوعي سپوږمکۍ یې فضا ته توغولې چې د پوځي استخباراتي موخو لپاره به د پام وړ اطلاعات راټول کړي. د اسراییل د اوفک-۱٦ مصنوعي سپوږمکۍ د شاویت په نامه توغندي په واسطه د دغه هېواد په مرکزي سیمو کې د پالماچیم هوایي اډې څخه فضا ته توغول شوې ده. د اسراییل د دفاع وزیر بني ګانتز ویلي چې اوفک-۱٦ یوه کشفي سپوږمکۍ ده چې پرمختللې قابلیتونه لري. هغه زیاته کړې: «موږ به په هره برخه او هر ځای کې د اسراییل د وړتیاوو غښتلي کولو ته دوام ورکړو». د اسراییل د دفاع وزیر ویلي چې اوفک-۱٦ به لوړ کیفیت لرونکي عکسونه برابر کړي او تمه کېږي چې د دې سپوږمکۍ په وسیله لومړنۍ اخیستل شوې تصویر راتلونکې اونۍ ترلاسه شي.

اسراییل د نړۍ د ګوتو په شمېر هېوادونو له ډلې څخه دی چې د استخباراتي سپوږمکیو او د اطلاعاتو د حاصلولو پرمختللې قابلیت لري.

اسراییل چې دمخه یې په ۲۰۱٦ ز کال کې د اوفک-۱۱ استخباراتي سپوږمکۍ فضا ته لېږلې وه، د خپلو سپوږمکیو د فعالیتونو د پراخولو په حال کې دی چې د ایران په څېر د سیالو هېوادونو فعالیتونه وڅاري.


## ژونــــد

# د ستونزو په وخت کې له ملګرو سره څه ډول مرسته کولی شو؟



ډېری وخت ځورېدلي کسان دې ته اړتیا نه لري چې د نورو له خولې د ډاډګیرنې خبرې واوري، دوی غواړي یوازې خبرو ته یې څوک غوږ ونیسي او زړه ورته تش کړي. ایا پوهېږی، دوی ولې خپه دي؟ ایا په دې هم پوهېږی چې غواړي زړه درته خالي کړي؟ نو که همداسې وي، موقع او ځای ورته برابر کړئ چې خپل زړه درته تش کړي، خبرې یې د زړه په غوږونو واورئ، ان د دې اجازه هم ورکړئ چې ستاسو پر اوږو سر کېږدي او ښه ډېر وژاړي. خبرې یې مه پرې کوئ، که یې په خبرو کولو کې اوږده دمه وکړه، کولی شی په ارامۍ ورسره خپل نظر د (هو) یا (نه) په لنډه کلمه شریک کړئ. داسې وښیئ چې خبرې یې درته مهمې دي او په پوره دقت مو ورته غوږ نیولی دی. په بحث کې د ګډون لپاره تر اړوندو پوښتنو کولو بله ښه لار نشته.

# کاهو؛ د میکروب ضد خاصیت هم لري



کاهو د شنو او لویو پاڼو لرونکی بوټی دی، چې پاڼې یې خامې خوړل کېږي او ډېری کسان په سلاد کې ترې ګټه اخلي. کاهو له ویټامین اې، بي، سي، اوسپنې، کلسیم اکساید، فاسفورېس، مګنیزیم، منګنیز، سوډیم او مسو څخه مالامال دی او تنده له منځه وړي. د خرڅلاو یا اهلي کاهو چې یو کال عمر لري شنې، اوږدې او پلنې پاڼې لري. پاڼې یې له شینوالي سره سره غوړې، شفافې، نرمې او نازکې ښکاري. روغتیا پالان وایي، د کاهو خوراک د وینې صافولو سره مرسته کوي. له دې سره سره کاهو صفرا کموي، قبضیت، ټوخی او د بدن دردونه له منځه وړي او خوب اراموي. کاهو د میکروب ضد خاصیت لري، تنده او د سینو درد له منځه وړي. د مثانې د زخمونو لپاره درمل دي او د ادرار لپاره لار پرانېزي. هغه کسان چې اشتها نه لري، کاهو ورته تر ټولو ښه نسخه ده. د دې لپاره چې په ټپې شوي ځای مو له سره وېښتان را شنه شي، کاهو وخورئ. په چین کې یې هغه مېرمنې چې ماشوم ته شیدې ورکوي د شېدو د زیاتوالي لپاره خوري.


ماسټر ډېبټ کارټ
د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.
1515 www.azizibank.af
عزیزي بانک
Azizi Bank
mastercard